پوهنمل حاجی محمد نوزادی

## د کوه نورالماس له کومه راغی او چیرته ولاړ ؟

( څلورمه او اخیرنی برخه )

### متمد ن برتانیوی پړاو او د کوه نور بیا حلالول :

په ۱۸٤۹ کال دبرتانیی بیرغ په رسمی توګه د لاهور پر سر ورپیدې او ددی سره سم د افغاني دامپراتوری له بدنه دازاد شوی پنجاب سیمه هم په برتانیوی امپراتوری ورګډه شوه . پدی کار سره انګریزانو د کوه نور سره یو ځای د لاهور پر ټولو جواهراتو او شتمنیو قبضه وکړه او دشرق الهند کمپنۍ خزانه یی لا نوره پری وپړسول . دپنجاب ترتسلیمیدو وروسته د کوه نور په اړه د ( لاهور معاهدی Treaty of Lahore ) پنامه دمغلوب او غالب ترمنځ په یوه لاسلیک شوی سند داسی راغلي دی ⅔⅓: کوه نور نومی الماسی غمی چی مهاراجا رنجیت سینګ د شاه شجاع الملک څخه اخیستي وو , باید د لاهور دمهاراجا لخوا دانګلستان وملکې ته تقدیم شیᴔ . په برتانوی هند کی انګریزی ګورنر جنرال Lord Dalhousie دمعاهدی دلوړی مادی دعملي کولو په خاطر کارونه داسی تظیم کړه چی له مخی یی د رنجیت سینګ ځوان ځای ناستی ځوی ۱۳ کلن هلک دولیپ سینګ Duleep Singh انګلستان ته ولیږل شو چی په خپل لاس کوه نور دسوغات په توګه ملکې ویکتوریا ته وړاندی کړی . داکار دجنګی غنیمت په ډول د کوه نور د لاس پرلاس کیدو په اوږده تاریخ کی اخیرنی وو او بنایی دپای ټکی به وی .

کوه نور په ۱۸۵۱ کال د لندن په Hyde Park کی دیوه نندارتون په ترڅ کی دانګریزی اولس دتماشا کولو دپاره کښیښودل شو چی دهغه وخت رسنیو دا غمی دنندارتون دزمری په توګه یاد کړ . د وخت حکومت غوښته پدی کار سره دبیوزلو اولسونو په لوټولو کی دخپل اردو بریاوی خلکو ته وښیی . تردغه وخته لا کوه نور د ځانه سره خپل تاریخی ارزښت چی لرغونی هندی حکاکی شوی شکل وو , درلود او پدی سره یی دبرتانیی خلکو ته دهغو لرغونو هندی ماهرانو د پیاوړو لاسونو هنری توان وښود .

ترڅو چی ملکه ویکتوریا ژوندۍ وه , د کوه نورنه یي دیوه زیوری توکی په ډول کار اخیست مګر دهغی تر مړنې وروسته غمی دبرتانوی دربار دجواهراتو خزانې ته وسپارل شو او دشاهی تاج په خولۍ کی یی نصب کړ .

په ۱۸٦۲ کال غمی د جان پانانت پنامه د برتانیوی دربار دیوه منرالوجست تر نظر لاندی دسره یوار بیا حکاکی او په اصطلاح دوهم ځل حلال شوچی دا ځل یی دپخوا په نسبت لږ هوار شکل دټاکلو څنډو سره پلاس راوړ . څرګنده ده چی هره ډبره په حکاکۍ کی خپل یوه برخه وزن او لویوالی له لاسه ورکوی , غمې هم تر حلالیدو او پوستولو وروسته دخپل بدن ډیره غوښه و بایلل او د ۱۹۱ قراطو نه و خپل ننني ۱۰۸,۹ قراطو ته را وړوکی او سپک شو . داکار خو ظاهرا پدی خاطر تر سره سو چی غمې ګویا په نوی تخنیک سره عصری شکل ته اړتیا درلوده مګر ډیری ماهران پدی کارسره خورا خواشینې شول ځکه چی تاریخی کوه نور نه یوازی خپل وزن او لویوالی و بایلی بلکه خپله معنوی سلامتې هم ټوله له لاسه ورکړه چی هغه دده تاریخی ارزښت وو . په خپل پخوانې شکل کی ده دپیړیو پیړیو قصی او اولسی افسانې کرلې وی ، ده دملې قهرمانانو دګوتو نښانې راوړی وی او دخیانتونو , دسیسو , توطیو او جفاګانو انبتاهی حکایتونه یي پری لیکلې وه . دده په مخ کی د جلال الدین اکبر او شاه جهان غوندی فرهنګپالو پلاس دعلم او پوهی مشالونه ځلیدلې او په وینو سره د اورنګزیب لاسونه یی پخپلو سترګو لیدلې وه .

دیوه معد نپوه په توګه زماپه اند د انګریزی شکیلاګګرانودا کار دومره مسلکی بنسټ ندرلود لکه سیاسی

موخه چې ور پکښې نغښتې وه . فکر کوم دا ددوی دهغو کړنو یوه برخه وه چې دوی به تل دنړۍ پربیوزلو هیوادونو او اولسونو باندی یرغل کاوه او په ښکاره به یې داسې ښودله چې ګویاغواړی هغوی له وحشت نه راوباسی , مدني یې کړی او دنوی عصر په برياوو یې پوه او اشنا کړی . دوی خپل دا په ظاهره خیر غوښتونکی کار دنوموړو اولسونو دپاره ستر خدمت ګاڼه چې له کبله یې باید اشغال سوی اولسونه منندوی اوسی . خو په واقعیت کې لکه څنګه چې د کوه نور بیلګی وښوده , داستعارچیانو اصلي موخه د اولسونو دمادی او معنوی شتمنیو لوټول او دارزانی بشری قوی سره د اومو موادو ترلاسه کول دی لکه شاعر چې وایي :

جوړ کړي زورورو همیشه په خپله ګټه
مرکز د لوټوني او سنګر له دی نړۍ
( وهاب سرتیر - سوې ډاګ )

داسنادو د لاسلیک څخه ددوی هدف دا وو چې دانګلستان په پارالمان کې اپوزیسیون , لیبرالو انګریزانو او همدارنګه نړیوالو ته وښیې چې دوی اشغالګر نه بلکه اړوند حکومتونه په خپله خوښه او رغبت ددوی په امپراتورۍ ور ګډیږی . کنه نو دیوه مغلوب واکمن سره د داډول یوی معاهدی لاسلیک اصلا هیڅ حقوقي ارزښت نلری او دبل طرف نه د یوه ۱۳کلن ماشوم په لیږلو کی ولندن ته انګریزانو څو موخی په پام کی نیولې وی :

۱ - د راتلونکی حقوقی دعوا وو دمخنیوی په هیله داسنادو داسی ښودنه چې ګویا کوه نور په قانونی ډول ملکې ته یو وړاندی شوی سوغات وو , نه د جنګی غنیمت یو توکی .
۲- دپنجاب خلګو ته یې داسی څرګندول چې ګویا د ستری امپراتورۍ ملکی ویکتوریا دی اولس ته د بیشاني درناوی ښودلو په توګه ددوی دزړه سر دولیپ سینګ لندن ته دیوه درانده او خا ص میلمه په مقام کی دعوت کړیدی څکه نو د دود سره سم , نوموړی میلمه داغمې دیوی معمولې تحفی په ډول دځانه سره لندن ته د ملکی دپاره یووړ او پدی سره یې خپل یو دودیز دین ادا کړ.
۳ - څکه نو دپنجاب خلګو ته پکار ده دسترې امپراتورۍ د ملکې لخوا خپل حضورته ددوی داستازی د بللو نه او همدارنګه دهغی لخوا د یوه عادی سوغات له قبلولو څخه باید دژوند تر پایه منندوی و اوسی .

د څلور سی ( 4C ) پر معیارونو برسیره دکوه نور دارزښت یو لوی فاکتور پدی کی نغښتې وو چې هغه د ډیرو پخوانیو زمانو ( ښایي لرغونو پیړیو ) دکلتوری او هنری مهارت اسرار دځانه سره ساتلې وه چې لدی کبله یې معنوی او تاریخی ارزښت دعرضی او تقاضا په بازار کی تر ارزښت څو برابره زیات وو . برتانیوی درباریانو په نوی تخنیک سره دعصری کولو په پلمه دا ارزښت دخاورو سره خاوری او تر پښو لاندی کړ . ددوی داکار بیا دهغو اوږدو موخو یوه برخه وه چې د اولسونو د تاریخ او معنوی ویاړونو د له منځه وړلو سره سم یې دهغوی د ملې هویت فسخ کول په پام کی نیولې وه .

<u>کوه نور دچا حق دی ؟</u>

دی ښکلې او ځلانده غمې د یوی بیوفا پیمخې معشوقی پشان ډیرو بوالهوسو مینانو ته سترګک وهلې دی . که هیچا ورته دملنګی کچکول پغاړه کړی ندی , خو ډیرو شاهانوپری زړه بایللې او د ډیرو شاهزاده ګانو نازکی وینې پر تویی شوی دی . دی غمې د خپل خونړې تاریخ په اوږدو کی د ډیرو زورورو هیوادونو په پسته غیږه کی د ناز خوبونه کړی او کله چې یې بیا دوی بی وسه لیدلې دی نو یې ځای پرځای مخ تری اړولې او د بل زورور هیواد په غیږه کی یې ارام موندلې دې . داچې د راز راز زور واکانو تر منځ لاس پلاس شویدې , اصلې څښتن یې ورک او میراث خوران یې اوس باید عریضه پلاس دقاضی دروازی ور و ټکوی . له همدی کبله یې هر هیواد اوس که یې شرعی نکاح ورسره تړلې وی او یا دایران پشان یې څو شپې په صیغه ورسره تیری کړی

وی , دښښتنوالی دعوی لری . پدی لړ کی پاکستان لومړی مدعی وو چی په ۱۹۷٦ کال دهغه هیواد مشر ذوالفقارعلی بوټو د خپل برتانیوی سیال Jim Collaghan نه د کوه نور دبیرته ورکولو غوښتنه وکړه , هغه په ډیره نرمه ژبه د ( نه ) ځواب ورکړاو وروسته یی په اړوندو هیوادونو کی خپلو دیپلوماتانو ته امر وکړ چی پدی اړه لازمی دیپلوماتیکی هلي ځلي تر سره کړی چی نور کسان دا ډول ورته خیال له سره وباسی . داچی بوټو دنور تیتګار توان په ځان کی نه لیده , چوپ پاته شو . لدی نه وروسته دهند دولت , په افغانستان کی دطالبانو اسلامی امارت او دایران اخوندی حکومت هم د انګلستان نه دکوه نور د بیرته ستنولو غوښتنه وکړه . مګر کوه نور خو لاتر اوسه تر همدغه ګړیه پوری په Tower of London کی پروت او د رنګونو لوبې کوی .

ترهغو پوری ځو داسی یوه بی پرې محکمه منځته راځی چی ددی ښکلي ناوی اصلی خاوند په ګوته کړی , ډیر وخت پاته دی . خو زما په اند اوس دهغی محکمې پریکړه واکمنه او نافذه ده چی له مخی یی زور حق دی , زور پوله نلری او د زورورو اوبه پرلوړه ځی .

دا وو د کوه نور په اړه هغه یولړ تاریخی , سیاسی او اقتصادی معلومات چی ما ورته لاس رسی درلود , اودخپلو لیکنو دمینه والو لوستونکو سره می شیریک کړ . دټولو هغو درنو لوستونکو څخه چی ددغه غمي په اړوند داسی نور کره معلومات ولری چی پدی لیکنه کی یادو شوو تاریخی - سیاسی څرګندونو ته د بدلون ورکولو پخاطر اړین ښکاری , هیله کوم چی په اړوندو انترنیتی سایټونو او یا نورو رسنیو کی یی خپور کړی . البته دالماس په اړه دیوه منرال یا لکه کاربن دیوه کیمیاوی عنصر په توګه دلا ډیرو مسلکی معلوماتو وړاندی کول زما ددغی لیکنې موخه نه وه , خو که مسلکي لوستونکي پدی اړه دځه لیکلو توان یا ارزولری , زه به یی لیکنې په خوښی سره ولولم خو په لوړه لیکنه کی یی دزیاتولو اړتیا نه وینم .
په مینه او مننه .